دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت شپږم کال، ۳۸ مه ګڼه، پرله پسې ۲۸۲ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د مرغومې ۲ مه د ۱۴۳۲ هـ ق د ربیع الاول لومړۍ د۲۰۱۴ م د دسمبر ۲۳ مه

درس قرآن

او مؤمنان چې کله هم د الله او دهغه د رسول په لور وبلل شي چې رسول دهغوی په مینځ کې فیصله وکړي نو وایي: مونږ بلنه واورېده، او ومو منله، او خلاصون د همدوی په برخه دی. او هغه کسان چې د الله او رسول منله وکړي او له الله نه وډار شي او له سرغړونې څخه یې ځان وژغوري نو همدوی بریمن دي. (النور: ۵۱ - ۵۲ آیتونه)

درس حدیث

از ابوهریره (رض) روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «همهٔ امتیان من وارد بهشت خواهند شد مگر کسی که امتناع ورزد». صحابه عرض کردند: ای رسول خدا! چه کسی امتناع می ورزد؟ فرمود: «هرکس که از من اطاعت کند، وارد بهشت می شود و هر کس، از من نافرمانی کند، در حقیقت، امتناع ورزیده است». (صحیح البخاري)

د اجرائیه ریاست لومړی مرستیال انجنیر محمدخان:

د دانګام پاځون کوونکو ټولو ستونزو ته به د حل لارې ولټول شي

((له سیمې څخه یې کوره شوي خلک به زر تر زره خپلو کورونو ته ستانه او له متضرره شویو خلکو سره به لازمې مرستې ترسره شي)).

شهادت . کابل:
د اجرائیه ریاست د لومړي معاونیت مطبوعاتي دفتر خبر راکوي چې د کونړ ولایت دانګام ولسوالۍ د اوسېدونکو د هر اړخیز حالت او په یادې سیمې کې له امنیتي وضعې نه د معلوماتو ترلاسه کولو په خاطر، د لیندۍ په ۲۹مه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اجرائیه ریاست د لومړي مرستیال انجنیر محمدخان تر مشرۍ لاندې یو دولتي لوړ پوړي پلاوي سفر وکړ. په یاد پلاوي کې چې د کورنیو وزارت، دفاع وزارت، د ملي امنیت د عمومي ریاست، د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري استازو تر څنګ، په ولسي جرګه کې د کونړ ولایت د خلکو او د امنیت شورا استازو ګډون درلود؛ د دانګام په ولسوالۍ کې د پاځون کوونکو له مرستیال حاجي مزمل او د ۱۰۲ سېلاب قول اردو قوماندان جنرال وزیري او د دې ولایت د ګنو اوسېدونکو سره کتنه تر سره کړه.
کونړ ولایت ته ورغلي پلاوي د ولایت مقام په تالار کې د ولایت د لوړ پوړ چارواکو، د امنیتي ارګانونو مسؤولینو سربیره له راټول شویو خلکو سره لیدنې وکړې، ... (۳ مخ)

تاکید وزیر دفاع ایتالیا بر حمایت درازمدت کشورش به افغانستان

کابل، رسانه ها:
رابرته پینوتی وزیر دفاع ایتالیا روز دو شنبه اول جدی سال روان خورشیدی با محمد اشرف غنی رییس جمهور افغانستان دیدار نمود. در این دیدار که در ارگ ریاست جمهوری صورت گرفت، هر دو جانب پیرامون گسترش و تقویت روابط میان دو کشور، حمایت درازمدت ایتالیا از نیروهای امنیتی افغانستان، مبارزه با تروریزم و توسعه اقتصادی افغانستان و همچنان همکاری های منطقوی، بحث و تبادل نظر کردند.
رییس جمهور غنی از حمایت و تعهد درازمدت ایتالیا با افغانستان در چوکات ماموریت (حمایت قاطع) سازمان ناتو، ستایش بعمل آورده و تداوم حمایت آنکشور را در راستای تامین صلح و ثبات در افغانستان و منطقه، فوق العاده مهم ارزیابی نمود.
رییس جمهور کشور همچنان از... (ص، ۴)

د جرمني هېواد د ملي وحدت له حکومت سره د خپلو مرستو پر دوام ژمنه وکړه

شهادت ، کابل:
د جرمني هېواد سفیر مارکوس پوتسل د اجرائیه ریاست له لومړي مرستیال انجنیر محمد خان سره په مرمرینه ماڼۍ کې د لیدنې پر مهال ژمنه وکړه چې د ملي وحدت له حکومت سره به خپلې مرستې جاري وساتي.
د اجرائیه ریاست د لومړي معاونیت مطبوعاتي دفتر خبر راکوي چې په کابل کې د جرمني سفیر «مارکوس پوتسل» د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال ته د ملي وحدت له حکومت څخه د جرمني دولت او د خلکو د بشپړ ملاتړ داډ ورکړ، ... (۴ مخ)

نباید انتخابات پارلمانی همراه با صداهای اعتراض تدویر یابد

ف، فایض

انتخابات ریاست جمهوری سال جاري (۱۳۹۳) اینکه عوامل آنرا هرچه بدانیم ولی با چالشها مواجه شد و گپ به بحران نزدیک میشد. گرچه تشکیل حکومت وحدت ملی بخاطر جلوگیری از بحران یک امر پسندیده بود، ولی با آن هم از روی اجبار قانون اساسی نادیده گرفته شد و یک توافق سیاسی راه را برای تشکیل حکومت وحدت ملی هموار ساخت. آقای عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان دریک گردهمایی که بمناسبت گرامیداشت ازچهلمین سالگشت شهادت فرزانهٔ نهضت اسلامی انجنیرحبیب الرحمن شهید در زیر خیمهٔ لویه جرگه تدویر یافته بود، پذیرفتن تشکیل حکومت وحدت ملي را توسل به اخف ضررین دانست. راستی هم حکومت وحدت ملی اگر هرنوع تعریف شود جایگاه... (ص، ۳)

هکرانو د افغانستان پر دولتي وېبپاڼو برید کړی

د ThreatConnect په نامه امریکایي شرکت، چې مرکز یې په امریکا کې دی، د مجازي امنیت په برخه کې څېړنې کوي، چې وایي تېره اونۍ هکرانو د افغانستان د دولت انټرنېټي توکبنسټونه چې تر ډېره د gov.af په بڼه کار ترې اخیستل کېږي، د ککړو پوست کالیو (سافټویرونو) په مټ چې ګومان پرې کېده، ددوی سرچینه به وي، په نښه کړي دي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت پر یو شمېر دولتي وېبپاڼو د انټرنېټي بریدونو خبر ور کړی دی.
ددغه وزارت ویاند نصرت الله رحیمي وایي، "لویو نړیوالو هکرانو" د تېر دسمبر پر نولسمه د افغانستان پر مجازي فضاء برید کړی، او هغه یوه دوتنه (فایل) یې ګډوډ کړې، چې د افغانستان د وېبپاڼو د چلولو لپاره ګټه ترې اخیستل کېده.
ښاغلي رحیمي وویل، په دغه برید کې د مخابراتو وزارت د معلوماتو مرکز په نښه شوی و، خو د وزارت مسلکي چارواکو په ۲۴ ساعتونو کې د برید مخه ونیوه.
د مخابراتو وزارت وروسته تر هغه د انټرنېټي بریدونو خبر ور کړ، چې یوه امریکایي انټرنېټي شرکت د افغانستان د مجازي فضاء سیستم کمزوری وباله، او وویل چې هکرانو ددغه هېواد د دولتي وېبپاڼو په ګډوډولو سره جلیخ سیستمونه ګډوډ کړي دي.
نوموړی وویل، په دغه برید کې د مخابراتو وزارت د معلوماتو مرکز په نښه شوی و، خو د وزارت مسلکي چارواکو په ۲۴ ساعتونو کې د برید مخه ونیوه. ... (۴ مخ)

پاکستان ۵۰۰ محکوم به تروریزم را اعدام می کند

پاکستان، رسانه ها:
در حالی که وزارت داخله پاکستان خبر داده است چند تن را در ارتباط با حمله مرگبار هفته گذشته دستگیر کرده، دفتر نخست وزیری این کشور می گوید که قرار است ۵۰۰ محکوم به تروریسم اعدام شوند.
مقامات پاکستانی گفته اند که این کشور قصد دارد حدود ۵۰۰ نفر را که به اتهام اعمال تروریستی محکوم شده اند، در طول سه هفته اعدام کند. مصدق ملک، سخنگوی نخست وزیری پاکستان به نقل از نوازشریف به خبرگزاری آلمان (دی. پی. ای) گفته است: "هیچ بخششی در قبال کسانی که کودکان ما را، شهروندان و سربازان ما را کشته اند، وجود ندارد." (ص، ۴)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

څومره ځنډ، څومره انتظار؟

دولسمشرۍ دانتخاباتو بهیر خلک د نهیلۍ خواته بوتلل، خو چې کله دملي وحدت حکومت جوړ شو؛ نو دخلکو نهیلي په هیله بدل شوه، بیا چې ولسمشر یوڅه لومړني جدي ګامونه واخستل؛ خوچې څومره دکابینې تشکیل له ځنډ او ځنډ سره مخ کېده. پر خلکو یوځل بیا نهیلي مسلطه شوه. په پیل کې تریو څه وخته پورې دکابینې دځنډولو په اړه ددولت استدلال خلکوته دمنلو و؛ خو چې څومره دکابینې تشکیل وځنډول شو، په همغه اندازه خلک یوځل بیا دنهیلۍ ښکارشول. دانهیلۍ خو به هلته زیاته شي چې داسې کسان کابینې ته معرفي شي چې خلک پخوانیوته دعا وکړي، بیا به خلک پر دې عقیده شي، چې دا دکابینې ځنډول اصلاً دوړکسانو په خاطر نه و؛ بلکې دا اصلاً د امتیازاتو پرسر نانډرۍ وهل کېدې، هغه مهال به بیا دولت ته هېڅ داسې بهانه پاتې نه وي چې ولس به یې قانع کړای شي، بیا به دتحول وعده هم هسې د اوبو څګ شي او اصلاحات هم ؛ نو پردې اساس دملي وحدت دحکومت مشران باید دغو نزاکتونو او حساسیتونوته متوجه شي، او نور خلک په انتظار کې پرینږدي.

داچې وایي الانتظار اشدمن القتل همدغه یې ځای دی، دولت یا حکومت باید درک کړي چې دا انتظار پر ولس څومره ګران تمامیږي.

دولت ومني او که ونه مني خو دکابینې ځنډول په ولس ډېرې بدې اغیزې پرځای پریښې دي. تاسې یواځې امنیتي حالات وجاجوئ، هره ورځ دردوونکې پیښې، هره ورځ دهېواد په یوه برخه کې دغسې پېښې رامنځته کیږي چې خلک دویر پرتغره ناست وي. همدارنګه دغه حالت زموږ پراقتصاد ډیره منفي اغیزې کړي دي، زیاتره پانګوالو له هېواده دخپلو پانګو پرایستلو پیل کړی دی او دا بهیر لا روان دی، همدارنګه دمغزونو فرار دوام لري، زموږ پر تعلیمي بهیر منفي اغیز شوی دی. بهرنیان له دې نه ویره لري چې په افغانستان کې پانګونه وکړي، دپروژو خصوصاً دلویو پروژو تطبیق ځنډیدلی دی، بالاخره دټول ولس سترګې د ارګ خواته دي چې څه پریکړه به کوي.

تر اوسه چې کابینه نه ده اعلان شوی، یو خو دکابینې نورځنډول په هیڅوجه دمنلو نه دي باید دولت په دې اړه جدي تصمیم ونیسي او له بلې خوا باید دولت داسې ونه کړي چې له بارانه پاڅي او ترناوې لاندې کښیني، که چېرې په راتلونکې کابینه کې داسې کسان مقرر کړای شي چې ترتېرې کابینی هم کمزوري وي بیا به دولت ولس ته څه ډول قناعت ورکوي؛ نو ښه داده چې تدین، تخصص او تعهد دریو اړه په پام کې ونیول شي.

زموږ داوسني ګډوډ حالت له لامله دکونړ ولایت دانګام ولسوالي تر بهرني یرغل لاندې ده، دخلکو کورونه وسوځول شول، خلک شهیدان کړای شول، خلک تر اقتصادي محاصرې لاندې دي، که چېرې دکابینې نه تشکیل په هره بهانه ځنډول کیږي، وضع به نوره هم خرابیږي او مسؤولیت به یې ددولت پرغاړه وي.

نصرالله

د سولې او امنیت په انتظار

دافغانستان دځوریدلي ولس سترګې په سولې او امنیت پسې ووتلې، په دې انتظارکې ډیر خلک ترخاورو لاندې شول؛ خو دسولې ارمان یې له ځانه سره ګورته یوړ.

دافغانانو لپاره سوله یوه عنقا ګرځیدلې، نوم یې شته خو په سترګونه لیدل کیږي، ددې یواځنی له لامل دادی چې موږ له پردیونه سوله غواړو او بل چاته مو دسولې د راوستو لمنه نیولې، مګر دیته نه ګورو چې هغه ځای سوځیږي چیرته چې اوربل شوی وي، ناامني او جګړه په افغانستان کې روانه ده او دردونه یې هم افغانانو ته رسیږي آخر پردي زموږ د دردونو څه پرواکوي.

د دردو نوپه علاج پسې؛ خو هغه څوک ګرځي چې له خپلو دردونو کړېږي، بې خوبه کیږي او نالښت کوي. موږ افغانان باید دا واقعیت ومنو چې زموږ په مرګونو، وژنو، ټپونو، دردونو، نالښتونو او فریادونو نه څوک خپه کیږي او نه هم غمجن؛ بلکې تماشایې کوي او خوندونه اخلي، که چیرته نړۍ زموږ پرغمونو او دردونو خوریدلای؛ نو لا ډیر پخوا به دجګړې پر اور اوبه اچول شوی وای، سکروټې به یې نه پوکولې او له بڅرکونه به یې د اورلمبې نه جوړولې، زموږ ځوانانوته به یې په پوځي کمپونو کې دورانکاریو تربیه نه ورکوله، د وسلو درانیولو لپاره به یې پیسې نه ورکولې، افغانستان ته دسولې دراوستلو پربهانه راغلیو لکونو ځواکونو به داجګړه نوره نه اوږدوله. موږ وینو چې دځو ورځو راهیسې، په دانګام کې تر دوو زرو وسلوال مخالین راغونډ شوي دغرونو څوکې یې نیولي ځای او مقربې څرګندی پرخلکو د درنو اوسپکو وسلو ډزې رواني دي؛ مګر امریکایي او ناټو ځواکونه ویده دي، دهیواد په ځینو برخوکې خال خال مشکوک کسان خو ترهدف لاندې نیسي لکه چې تیره اونۍ د جلال آباد په کوټ کې یې پر ۷ تنو وسلوالوې هوایي بمباري وکړه او ویې وژل؛ مګر په دانګام اولسوالی کې عملاً پرجګړه اخته سلګونو وسلوالوته چې لسګونه کورونه یې سوځولي دي اوځایي اوسیدونکې په یخه فضا کې دڅیریو ترونو لاندې وړې تږې پراته دي، ټیپان یې بې درملې کریږي. شاخوا ټولې لارې یې له بمونو ډکې کړې او خلک وربانديې تګ راتګ نشي کولای هیڅ نه وایي. له همدې ځایه معلومیږي چې هیڅوک زموږ غمخور نشته. هغوی صرف دجګړې لمنه پراخوي او له دې لارې غواړي چې خپلو پخوانیو شومو اهدافوته ورسیږي.

((دافغانانو لپاره سوله یوه عنقا ګرځیدلې، نوم یې شته خو په سترګونه لیدل کیږي، ددې یواځنی له لامل دادی چې موږ له پردیونه سوله غواړو او بل چاته مو دسولې د راوستو لمنه نیولې، مګر دیته نه ګورو چې هغه ځای سوځیږي چیرته چې اوربل شوی وي. ناامني او جګړه په افغانستان کې روانه ده او دردونه یې هم افغانانو ته رسیږي آخر پردي زموږ د دردونو څه پروا کوي.
د دردو نوپه علاج پسې! خو هغه څوک ګرځي چې له خپلو دردونو کړېږي، بې خوبه کیږي او نالښت کوي. موږ افغانان باید دا واقعیت ومنو چې زموږ په مرګونو، وژنو، ټپونو، دردونو، نالښتونو او فریادونو نه څوک خپه کیږي او نه هم غمجن! بلکې تماشایې کوي او خوندونه اخلي.))

د ټولو افغانانو په خوله همدا یوه خبره ده چې کله دافغانستان په سلوکې څلویښت برخه زمکه دمخالفینو او پاتې نور ددولت په لاس کې وي او عملاً دوه متوازی حکومتونه چلیږي؛ نو له مخالفینو وسلوالو سره په دومره لوی جنګ کې خامخا سلاتړ کوونکي او تمویلوونکي دولتونه شته چې له سترګو پټ نه دي، خو په هرڅه دپوهیدو باوجود تر اوسه پورې دهغوی دمخنیوې له پاره دامریکایي او ناټو ځواکونو غلي پاتې کیدل په همدې خبره دلالت کوي چې خامخا ترکاسې لاندې نیم کاسه شته او ټول کارونه له وړاندې نه دسنجول شوي پلان سره سم پرمخ وړل کیږي؛ وینې دافغانانو بهیږي اوګټې نور هیوادونه پخپلو ځولیو کې اچوي: نو ځکه په داسې حالت کې له پردیونه دسولې دراوستلو سوال کول هیڅ ګټه نه لري؛ بلکې ددی خاورې اصیلو بچیانوته پکاردي چې ځان ددښمنانو په ناوړو اهدافو پوه او پخپله دسولې دقیام له پاره راجرګه شي، دخپلو دردونو د ټکور او درملنې له پاره پخپله لاس په کارشي، دخپل هیواد دواقعي استقلال او دولس دنیکمرغۍ او نجات لپاره پخپله فکر وکړي او په دې خبره غور وکړي چې تر اوسه له دغو ټولو روانو جګړو څخه چاګټه پورته کړی او څوک زیانمن شوي دي؟ ځواب یې څرګند دی چې ددغې جګړې اصلي قربانیان افغانان دي، هیواد یې هم ورانیږي او سرونه یې هم تلف کیږي، ټول مادي او معنوي تاوان افغانان زغمی او ګټې پردي هیوادونه ترلاسه کوي، همدا لامل دی چې امریکایي او ناټو هیوادونو ترڅنګ ګاونډي هیوادونه هم دخپلو ګټو دتأمین په خاطر دجګړې اورتازه ساتلی، دا اصلاً امکان نه لري چې دغسې یو کمزوری هیواد دې له هغوی سره له تفاهم پرته امریکا او ناټو هیوادو سره ښکر په ښکر شي او تر ۱۴ کلو پورې دې جګړه پرمخ یوسي. که امریکا او ناټو غړي هیوادونه دغو هېوادوته یواځې داقتصادي بندیزونو دلګولو اخطار قدرې هم ورکړي؛ نو په ډیر لږ وخت کې به په ګونډو او پخپله خاوره کې به یې دټولو ادو ترلو ته اړباسي. داچې داسې نه کیږي او دافغانستان مخالف وسلوال په مسلسل ډول د دهغوی په خاوره کې روزل کیږي او درواتو اوبو په څیر په دوامداره توګه افغانستان ته لیږل کیږي په همدې خبره دلالت کوي چې دا هرڅه دامریکا په خوښه او ملګرتیا ترسره کوي او دواړه خپل ګډ اهداف پرمخ وړي؛ نوځکه د افغانستان ټول هیوادوال دی که هغوی په دولت کې دي یا مخالفین په دې خبره خپل سرخلاص کړي چې د پردیو هیوادونو په پروګرام کې په افغانستان کې دسولې راوستلو ماده له سره نشته، هغوی یواځې په دی خبره متحدانه او متفقانه عمل کوي چې په افغانستان کې دجګړې اور تازه وساتي او خپلې ګټې ترلاسه کړي، په هیواد کې دجنګ جګړې دخاتمې او سولې لپاره چې موږ څومره اوږد انتظار وکړ دا له زغم نه بهردی هغوی په تیرو څوارلسو کلونو کې کولای شول چې افغانستان د امن زانګو وګرځوي او دغه رنځیدلی ملت نور دجګړو له تباهیونه وباسي؛ خو وموليدل چې هیڅ یې ونه کړل، نه یې دافغانستان پوځ ته ضروري او لازمې وسلې ورکړې او نه یې هم پخپله دتیرې کوونکو مخه ډبه کړه. پخپلو سترګو وینو چې هره ورځ د افغانستان په ګنو ولایتونو او ولسوالیو کې په لسګونه بې ګناه خلک وژل کیږي، ښونځي تړل کیږي او وسلوال مخالفین خپل مرکزونه پیاوړي کوي، عملاً د افغانستان په لویشت لویشت خاوره کې د جګړې اوربل دی او افغانان یکې خپل قیمتي ژوند له لاسه ورکوي. که موږ دافکر لرو چې امریکا، غربي هیوادونه او زموږ ګاونډیان به موږ له دی حالت نه وژغوري او زموږ هېواد ته به سوله راولي دا نو زموږ ناخبري ده او ترهغه به موږ دجګړو په لمبو کې سوځوي چې خپل اهداف یې نه وي ترلاسه کړي، زموږ رنځیدلو افغانانو ته پکار دي چې نور تیرنه وځي، له تیر تاریخ نه دعبرت درس واخلي او له نورو نه د سولې د سوال پرځای پخپله دسولې پر پروګرام کار وکړي، خپل هیواد، دین، عفت او آبرو پخپله تأمین کړي، ټول په یو قوت دهیواد ددښمنانو پرخلاف ودریږي او په دی توګه دپردیو د ډول ډول توطیو په شنډولو سره دسولې، عزت او وقار ژوند خپل کړي.

که الله مکره افغانان په دی نازک او حساس وخت کې هم د غفلت له دروند خوبه بیدارنه شي او خپل دوست او دښمن ونه پیژني د هلاکت په هغه خطرناک ګرنګ کې به له پریوتونه څوک بچ نه کړي چې دهیواد دښمنانو په ډیر مهارت سره جوړ کړی او دهغو آخري شیبو انتظار وباسي چې افغانان پکې وغورځیږي او د استقلال وروستنۍ شیبې له لاسه ورکړي، الله دې نه کړي.

فروغگر

دکابینې له اعلان وروسته دحکومت مکلفیتونه څه دي او څه باید وي؟

(۳)

امنیتي ننګوني هغه مهال زیاتیږي چې دامنیت اخلالګر خپلې ګټې په خطر کې وګوري، د ملي وحدت حکومت له راتګ سره سم زموږ په ټولنه کې او همدارنګه په هغو کړیو کې دا هیلې ټوکیدلي وې چې که خدای کول ددې حکومت په جوړیدو سره چې شعارېې اهلیت، کفایت، اصلاح او بدلون دی، داسې اصول رامنځ ته شي چې زموږ ملت عملاً ټولې ترنګنی شاته پریږدي، ټول تعصبات په لته ووهي او ټولو ګوندي امتیازاتونه شا کړي او فقط د خدای وطن او ملت لپاره سره یو موټی شي او د واحد افغانستان لپاره مبارزه وکړي؛ نو که چیرې زموږ د رهبري لوری بریالې شي چې د نوي حکومت په تشکیلاتو او اناټومي کې دغه روحیه ویالي، وده ورکړي او ثمرته یې ورسوي، په دې صورت کې به حتما امنیتي ننګوني هم ورسره څکه زیاتیږي چې نازولي مفت خواره، رشوتخواره، ستر اداري مفسدین، مافیایي کړی، وطن دښمنه خیرې، دسخکې غاصبان، خطرناک وسلوال متعصبین، دافغانستان د طبیعي زیرسو ناقانونه کاروباریان، قاچاقبران، جاسوسي کړی او زموږ دهیواد داخلي او سیمه ییز دښمنان، دهغو اهدافو له سرته رسولو ناهیلي کیږي چې غوښته یې ان ددې ملت د بربادی په بیه یې ترلاسه کړي زما وړاندیزونه په دې جهت کې خپلو مشرانو او چارواکو ته دادي چې د اولسمشر غني په وینا لومړی د ارګ او جومات ترمنځ واټن له منځه ولاړشي؛ که څه هم دا وړاندیز به تاسي ته لږ هیښوونکي وي څکه په دری کې یو متل دی چې وایي: ((ده درکجا و درختهایش درکجا؟)) دا وړاندیز هم په لومړي پلا همداشان معلومیږي خو که حقیقت ته زیرشو دولسمشر داخبره یوازې په دې کې نه منحصر کیږي چې زموږ د علماو او ارګ ترمنځ فاصله له منځه لاړه شي، حکومت له علماو سره مشورې ولري، دهغوی پرړایو عمل وکړي، ارګ به ان په کلیوالي کچه ددین په چاروکې درغون او ودې په خاطر مضبوط ګامونه اخلي؛ بلکې دا مهمه موضوع هم په کې شامله ده چې حکومت له انحصار غوښتنې وځي او له اولس سره یې هم فاصله له منځه ځي؛ څکه امام د خلکو امام دی، کومې خوانه چې ځي اولس هم په ځان پسې راکاږي؛ نو په هغه اولس کې به دښمن څنګه لاره پیدا کړي او هغه اولس به څکه دښس تیرباسي چې شپه ورځ خپل مشران د قوم او ملت په خدمت کې ویني، ددوی او دچارواکو په منځ کې د ممانعت کوم دیوال نشته او یا حکومتي مشران یا دغرور او تکبیر له لامله او یا دویرې له مخې له اولس سره حشر او نشر نه لري چې سبا به ددوی حیثیت زیانمن شي کله چې جومات آباد وي، پنځه وخته لمونځ او دجمعې لمونځونه په کې کیږي، داسې حلقې په کې فعالې وي، دخلکو دیرې شخړې دکلي امام حلوي، سرمایه داران یې یا په خپله خوښه یا دحکومت په وسیله دخپلو مالونواو غلو دانو عشر او زکات ورکوي، ښوونځي پرانستي وي او داسلامي جمهوریت نصاب په کې تدریس کیږي، زراعت یې دحکومت له خوا تنظیمیږي او د زراعت ماموران وخت په وخت دخلکو فصلونه او باغونه څاري او خلکو ته لازم هدایات ورکوي، دکلیو دپراختیا وزارت کلي او کورونه رغوي.

لارې او لورې جوړوي، صحي او به خلکوته برابر وی او همدارنګه دعامې روغتیا وزارت په هره اولسوالی کې دصحي خدماتو کافي مرکزونه لري؛ نو بیا هلته دښمن ته له آره ورځتې لار نه پیداکیږي او نه هم خلک دحکومت پرضد پارولی شي.

اولسمشر غني او اجرائیه رئیس عبدالله په خپلو بیلابیلو څرګندونو کې د انتقاد منلو او اصلاح خبرې کولي او لاپې کوي. اولسمشر خو په خپله افتتاحیه وینا کې دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دخلافت د لومړی ورځې هغې خطابت ته اشاره وکړه چې ویلي یې وو:

((که مې ښه کارونه کول، ما سره مرسته وکړئ او که چیری مې ښه کارونه نه کول ما اصلاح کړئ؛ کله چې په ټولنه کې زموږ د حکومت لوړ پوړي چارواکي د ملت وطن او خپل غني فرهنګ په جهت کې رغنده ګامونه واخلي او داولس له پوهانو ټیولې ترعامو وګړو پورې خلک په اعتماد کې ونیسي، او د اوریدلو، مشورې او اصلاح ظرفیت هم ولري دښمن چیرته کولی شي د ملت او زعامت ترمنځ واټن پیدا کړي او یا دې د خلکو نه په استفادې سره دهیواد امنیت اخلال کړي.

کټ مټ د اولسمشر او اجرائیه رئیس د اړیکو څرنګوالی به په ټورو لوړ پوړو چارواکو کې وځېږو او په هغو کې به ددې کرنلارې د تطبیق په برخه کې چې لومړی به یې په ځان تطبیقوي، بیا پر اولس، نو له معینه بیا تر یو عادي ماموره پورې به په داسې دریځ کې ولاړ وي چې د ملت په منځ کې د ملت ملاتړ به له ځان سره لري؛ څکه ملت له خپلو چارواکونه شفاف کار غواړي، شفقت او ترحم غواړي، زړه سواندی او انساني مناسبات غواړي؛ نو ددغو ارزښتونو دترلاسه کولو په صورت کې، دښمن چیرته کولی شي ددې عظیم ملت په عظیمو ارادو کې داسې لویدلي رجحانات پیدا کړي چې دهیواد دین او فرهنګ پرخلاف وي، ضرور به، پرهغه مهال داسې فضا پیدا کیږي چې ملت به دخپلو چارواکو شاته ولاړوي؛ څکه همدغه چارواکي دي چې دوی ته د ژوند شرایط برابروي، سهولتونه ورته برابروي او دښه ژوند په لور، لارې او لورې ورته برانیزي، بد مرغي خو هغه مهال پیښیږي چې چارواکي له ملت او ملت له چارواکو لرې وي، یو بل ته غله وي، یو بل ته بنیرې کوي او یو دبل نابودي غواړي؛ همدارنګه که امنیتي اداري هم په هیواد کې د ثبات سولې او امنیت لپاره لومړی په خپلو کې هم آهنګي ولري او بیا له حکومت او اولس سره؛ نو په هغه صورت کې هم دښمن ته ددې مجال نه پیدا کیږي چې دخلکو ژوند وګواښي، تاوتریخوالی پیداکړي تروریستي حملې وکړي، ان ځانمرګي بریدونه هم نشي کولی، له خلکو سره د تماسونو په لړ کې داجرائیه رئیس لومړی مرستیال انجنیرمحمد خان ښه پیل کړی دی او په دې خاطر به اغیزمن تمام شي چې یو خو په خپله انجنیرمحمدخان خورا پاکه سابقه لري هم دجهاد په دوران کې، هم دماموریتونو په دوران کې او هم همدا اوس، زه مطمئن یم چې که چیری دی او ددې په شان نور لوړ پوړي چارواکي د افغانستان بیلابیلو ولایاتو، سیمو او اولسوالیوته سفر وکړي دخلکو ستونزې هوارې کړي، له خلکو سره حشرنشر شي، زموږ په اوسنی وضع کې به ۷۰ سلنه بهبود

راځي؛ زموږ مشکل او عمده مشکل همدغه دی چې د رهبری او اولس په منځ کې د انحصار غټ غټ دیوالونه جوړ شوي دي او یا ځیني وګړي له اولس سره دمخامخ کیدو جرئت نشي کولی، که چیری زموږ چارواکي دا ظرفیت پیدا کړي چې د اولس اعتماد په بشپړه توګه جلب کړي، داغاصبان، غله، د معدنونو چپاولګران، قاچاقبران، غټ غټ غله یو هم نشي کولی دخلکو په منځ کې ژوند وکړي، رسواکیږي به، اولس به وریسې پاځیږي، نیسي به یې او دقانون منګولو ته به یې سپاري، همدارنګه هغو مخالفینونه هم داختلاف ټکی نه پاتې کیږي چې له حکومت او خلکو سره یې لري، راځي به او دهیواد له سیاسي بهیر سره به ګډیږي او پرهغو اصولو به ژمن پاتې کیږي چې قرآن او سنت یې غواړي، کنه نور نو څه جواز لري چې د مسلمانو وګړو په وژلو لاسونه سره کړي؟!

پاتې شوې سیمه ییزې امنیتي ستونزې

په دې برخه کې دسیمې هیوادونو او افغانستان دچارواکو ترمنځ پرله پسې هغه ناستې اړینې دي چې په کې ددوی او زموږ ستونزې وڅیړل شي، هغه عوامل وڅیړل شي چې دوی دهغو پر بنیاد زموږ له هیواد او اولس سره دښمني پالي او ددغو دښمنیو په ترڅ کې دثری په کچه موږته ستونزې راولاړې کړي او دلته خو هغه ده ټول یې وینې چې نړیوال استکبار دخپلو سیمه ییزو ژمن ملګرو سره زموږ له هیواده د اور بټۍ جوړه کړی ده په کار دادي چې ددغو تاوتریخوالو د پای ته رسولو لپاره له خپلو هیوادو سره پراخې خبرې اترې پیل شي او د هغوی د رجحاناتو په وړاندې خپل ترجیحات هم همهاله وړاندې کړو او ((دڅه واخله او څه راکړه)) د سیاسي فورمول له مخې روانې غمیزې ته دپای ټکي کیدو؛ که موږ چاته اجازه ورنکړو چې زموږ هیواد دنیابتي جګړو دګر وګرځوي ددې تاوتریخوالو ۳۵ سلنه به نوره هم کمه شي او ددخپلو هیوادو سره دغوره ټوبونو په تبادله کې کومې مثبتې هوکړې تهورسیږو؛ خو هغه ده بیا دا ستونزی په سلو کې سل دحل وړ بریښي.

هیوادونه که یو دبل په ګاونډ کې وي یا په یوه سیمه کې سیمه ییز ګاونډیتوب لري هریوځان ته غوره ټوبونه لري چې ان دهغو له ملي حاکمیت او استقلال سره همغږي ښيي؛ نو هیڅ هیواد، نه داحق لري او نه خودا کولی شي چې یوازی ځان دګټې په بازارکې وویني او کله کله دخپلو ګټو په بیه دنورو ملي حاکمیت او استقلال هم زیانمن کړي؛ موږ ددغه اصل له مخې چې په ډیپلوماسی کې منل شوی لرغونې اصل دی، کولی شو خپل مسایل هم له نږدې او هم له سیمه ییزوګاونډیانو سره حل کړو، موږ په دې تیرو ۱۳ کلونو کې له سیمه ییزو اونږدې ګاونډیانو سره دمتکې ډیپلوماسی له لامله سختې ستونزې وګاللې، افغانستان په وینو کې ولمبید؛ مګر زموږ چارواکي د هغه دلیل په پیدا کولو کې ناکام شول چې ولې زموږ ولس هره ورځ قرباني ورکوي؟! او یا په دې دلیل پوهیدل؛ خو یا دمصلحت او یا هم دویرې له لامله یې ونشو کړای نیغ په نیغه مسایل وګرته وباسي او په سیمه ییزه اوتریوالة کچه یې د حل لارې او لورې وګوري او که چیری اوس هم خورا څرګند ډیپلوماتیک واقعیتونه ونه ګورو، خو بیا به هم هماغه حال وي لکه چې ۱۳ کاله یې دوام درلود او اوس هم دوام لري.

د دانګام پاخون کوونکو ټولو ...

د کونړ خلکو پلاوي ته وویل؛ د د انګام ولسوالی پرخلکو د وسله والو مخالفینو د وحشیانه برید په اړه یې دولتي او امنیتي ارګانونو ته تکرار په وخت دقیق او پوره معلومات ورکړي وو؛ خو له بده مرغه ځایي مسؤولینو او هوائي ځواکونو د دوی لخوا ورکړل شویو راپوروتو ته هیڅ توجه ونه کړه او ولس په تش لاس له برید کوونکو سره په جګړه کې ښکیل شو.

د ولایت مقام په تالار کې راټول شویو قومي مشرانو او متنفذینو زیاته کړه، که چیرې مرکزي حکومت د دانګام ولسوالی د بېرحمانه تجاوز مخه ونه نیسي، نو ډېر ژر به د کنړ مرکز اسد آباد د جنګ په یو لوی ډګر بدل شي.

د کونړ ولایت قومي مشرانو په یاد ولایت کې له پولې پورې غاړې راکډه شویو کډوالو بې بندوباري، د ګاونډي هېواد څخه په اسانی د وسله والو تګ راتګ او د امنیتي ځواکونو د تشکیل کموالی، په یاد ولایت کې د ناامنی مهم لاملونه وبلل. او له ورغلي لوړپوړي دولتي پلاوي څخه یې غوښتنه وکړه چې دولت دې په سیمه کې د تلپاتي امنیت د تأمین په خاطر، د هوایي ځواک د کارولو تر څنګ هر اړخیز کوټلي ګامونه پورته کړي؛ چې د جګړې او د وسله والو لخوا د کورونو له سوځولو له کبله، له سیمې څخه بې کوره شوي خلک زر تر زره خپلو کورونو ته ستانه شي، او له متضرره شویو خلکو سره لازمې مرستې ترسره شي.

د اجرائیه ریاست لومړي معاون انجنیر محمد خان، د ولایت چارواکو او امنیتي مسؤولینو ته دنده وسپارله چې په دانګام ولسوالی کې د خرابې وضعې بېرته عادي حالت ته راوړلو په موخه، له ترسره کېدونکو عملیاتو څخه سمه او دقیقه څارنه وکړي.

او ځایي خلکو ته یې داډ ورکړ چې ټولو ستونزو ته به یې د حل لارې ولټول شي.

نباید انتخابات پارلمانی همراه با ...

(ادامه از صفحه اول)

... حکومتی را که در قانون اساسی تعریف شده است گرفته نمیتواند؛ ولی دستهای غرض چنان زمینه سازی کرد که باید یک حکومت نیرومند تشکیل شده نتواند. گرچه من نمیخواهم به ماضی تلخ پناه ببرم ولی درحقیقت همین دستهای غرض آلود بود که نگذاشتند یک حکومت نیرومند تشکیل شود و برای جلوگیری ازیک حکومت نیرومند، یکدست ویک صدا طراحی کردند که بهمین ترتیب نگذاشتند تیمی که در دور اول به پیروزی رسیده بود، پیروز اعلان شود.

با تشکیل حکومت وحدت ملی یأسها به امیدها مبدل شد و در آغاز گامهای امیدوارکننده یی برداشته شد ولی به تعویق افتیدن کابینه اینکه دلایل آن هرچه باشد، برهمهٔ این اقدامات سایه افگند؛ وضع امنیتی با گذشت هرروز رو به وخامت گذاشت و دولت هم درین رابطه تاحدی ساکت مانده است، مردم ما هم نمیدانند که این سناریو که البته به نحوی ادامهٔ گذشته است، بخاطرچه منظور اینقدر تشدیدگردید، حتی که کنر، هلمند و بعضی دیگر ازولایات ما علناً آماج حملات بیرونی قرارگرفت ولی هر دوطرف توافقنامهٔ امنیتی ساکت اند.

با ایجاد این وضعیت آوازه های گوناگونی در فضای سیاسی کشور گردش میکند و در نتیجه گفته میشود که شاید انتخابات ولسی جرگه به تعویق بافتد که طبعاً چنین آوازه ها نگران کننده است؛ زیرا حکایت ازیک چالش دیگر میکند.

بتاریخ ۱۳۹۳/۹/۳۰ منابع خبری از قول دکتوراحمدیوسف نورستانی رئیس کمیسیون انتخابات حالی کردند که انتخابات ولسی جرگه به وقت و زمان خودش تدویر خواهد یافت، نورستانی از حکومت وجامعهٔ جهانی خواست تا در امر تدویر انتخابات پارلمانی، کمیسیون مستقل انتخابات را یاری کنند. بعد از تشکیل حکومت وحدت ملی که بعد از پشت سر گذاشتن چالشهای انتخابات ریاست جمهوری صورت گرفت، گفته میشد تا زمانیکه کمیسیونهای انتخابات وسمع شکایات انتخاباتی تصفیه نشوند، انتخابات پارلمانی سرنوشت بدتر از انتخابات ریاست جمهوری خواهد داشت، ولی کمیسیون انتخابات اخطار کرد که هیچ مرجع نمیتواند دست به تصفیهٔ این کمیسیونها بزنند، الا اینکه درقانون تغییری بیاورند.

گرچه کمیسیون انتخابات آمادگی خود را برای تدویر انتخابات پارلمانی ابراز نمود؛ ولی حکومت درین رابطه اظهار نظری نکرده است و نمیتوان اطمینان داشت که انتخابات پارلمانی به وقت و زمان خود و بدون دغدغه تدویر خواهد یافت، رئیس ولسی جرگه موجود هم دولت موجود را غیر مشروع و ساخته شده در نتیجهٔ فشار درسفارت امریکا توصیف کرد و دربرابر دولت خط سرخ کشید که تا یک هفتهٔ دیگر باید کابینه به ولسی جرگه غرض اخذ رای اعتماد معرفی شود ورنه ولسی جرگه تصمیم خود را خواهد گرفت. اینکه کابینه به ولسی جرگه معرفی خواهد شد یانه هم معلوم نیست و اینکه درصورت عدم معرفی کابینه، ولسی جرگه چه تصمیمی خواهد گرفت هم هنوز قبل از وقت است؛

اما آنچه قابل یاد دهانی است، این است تا زمانی که اصلاحات لازم در کمیسیون انتخابات آورده نه شود، تدویر انتخابات ولسی جرگه چالشهایی را پیش رو خواهد داشت که بازهم حتماً صداها و جنجالهایی را دربی خواهد داشت. اولتر از همه استقلالیت این کمیسیون مطمح بحث است. کمیسیون باید متشکل از افرادی باشد که بتواند بی طرفی خود را بنمایش بگذارند، درحالی که در انتخابات ریاست جمهوری خود کمیسیون اذعان داشت که بیش از پنجهزار کارمند کمیسیون در تقلب دست داشتند که به این ترتیب بزرگان دستهای خود را توسط پایین رتبه ها پاک کردند وخود را برائت دادند.

درکمیسیون انتخابات باید افرادی موظف شوند که تا حد ممکن از تمایلات حزبی، قومی و غیره پاک باشند و فقط بحیث یک کارمند این کمیسیون وظایف خود را با کمال ایمانداری و امانتداری اجرا کنند.

باید قبول کنیم که کمیسیون انتخابات از زمان تشکیل آن تا به امروز مورد اعتراض مردم است ویگانه علت آن، این است که دولت یا نخواست و یا نتوانست افرادبی طرف را در چنین جایی توظیف کنند، از همینجاست که بخصوص انتخابات ۲۰۰۹ و ۲۰۱۴ با سروصدا هایی همراه بوده است.

در قدم دوم باید کسانی درکمیسیون توظیف شوند که از نظر تخصص کار، شایستگی آنرا داشته باشند، تا بتوانند از لحاظ مسلکی وظیفهٔ خود را بدرستی انجام دهند، ولی ما دیدیم که اکثر افراد فقط بخاطر اخذ معاشات بلند درین کمیسیون توظیف شدند، اگر بیش از پنجهزار نفر ازکارمندان کمیسیون درتقلب دست دارند تنها همین کافی نخواهد بود که دست شان از کارکوتاه شود، باید آنانی که چنین افراد را توظیف کرده اند نیز پرسیده شوند که روی چه معیاری آنها را توظیف کرده اند.

درکشورما همیشه از تخصص گفته میشود، چنانچه که همین اکنون در مورد وزرا همین مسأله ورد زبانهاست؛ ولی هیچگاه از))تدین ((نشنیدیم، فقط تدین است که ما را متوجه مسؤولیتهای خود میسازد. اگر انتخابات پارلمانی هم بگونه یی تدویر میبابدکه به اصطلاح همان درک و همان خرک باشد، پس بهتراست هیچ دایر نشود، ولی اگر میخواهند انتخابات دایرشود باید اولتر از همه قدمهایی برداشته شود که دیگر صدای تقلب گوشهای مارا اذیت نکند.

د شهادت اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان سرتاسري ارگان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي خانگه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
د هیات تحریر تر خارنې لاندې
د دفتر شمیره: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲

- د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
- د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت پر وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته زیان ونه رسي.
- رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي
- یوازې سرلیکنه د شهادت اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

کوریای شمالی بمنظور حمله بر امریکا دست به ماشه است

از منابع خارجی — تهیه و ترتیب: فرحتیار

رهبر کوریای شمالی دستور داده است که در صورت هرگونه تحرک واشنگتن، نیروهای این کشور به امریکا، پایگاه های نظامی آن کشور در اقیانوس آرام از حمله در هاوایی و جزایر گوام و کوریای جنوبی حمله کنند.

به گزارش خبرنگار گزاری فرانسه از پیونگ یانگ، کوریای شمالی تهدید کرده است در صورتی که امریکا به بهانه دست داشتن پیونگ یانگ در حمله انترنیتی علیه شرکت سونی، این کشور را هدف تحریم قرار دهد. پیونگ یانگ به کاخ سفید و سایر اهداف امریکا حمله خواهد کرد.

رهبر کوریای شمالی اخیرا فرمان آماده باش برای حمله راکتی به پایگاه های نظامی امریکا را صادر کرد.

به نقل از خبرگزاری فرانسه، این اقدام (پیونگ یانگ) در پی پرواز بمب افگن‌های اتمی امریکا بر فراز کوریای جنوبی بود که با هدف ارعاب کوریای شمالی نسبت به هرگونه تحرک نظامی در شبه جزیره کوریا انجام شد.

قبلا چک هیگل، وزیر دفاع امریکا اعلام کرده بود، واشنگتن از ((تهدیدهای جنگ طلبانه)) پیونگ یانگ هراسی ندارد و آماده پاسخگویی به هر تحرکی می باشد.

کیم جونگ اون، رهبر کوریای شمالی دستور داده است تا پایگاه های راکتی در حالت آماده‌باش قرار بگیرند. این فرمان پس از نشست اضطراری با فرمانده هان ارشد ارتش کوریای شمالی صادر شده است.

رهبر کوریای شمالی در ادامه سخنرانی خودگفت: زمان آن فرا رسیده است تا با امریکای تصفیه حساب کنیم.

رهبر جوان کوریای شمالی در ادامه خاطرنشان ساخت که پرواز بمب افگن‌های اتمی امریکا بر فراز کوریای جنوبی فراتر از یک قدرت‌نمایی معمولی بود.

با در نظر داشت این فرمان رهبر کوریای شمالی، کمیسیون دفاع ملی این کشور نیز طی بیانیه رسمی اعلام کرد، مردم و ارتش این کشور آماده اند با امریکا در همه عرصه ها جنگ مقابله کنند و برج و باره های امریکا را نابود سازند.

کمیسیون دفاع ملی کوریای شمالی که عالی ترین نهاد نظامی این کشور است بار دیگر هر گونه دست داشتن این کشور را در هک کردن شرکت سونی تکذیب کرد.

در این بیانیه آمده است: «شدیدترین حمله متقابل ما علیه کاخ سفید، پنتاگون و تمام خاک امریکا که به خانه تروریزم تبدیل شده است، خواهد بود».

بارک اوباما، رییس جمهور امریکا، در اظهارات خود گفته بود که حمله انترنیتی به شرکت سونی کار کوریای شمالی بود.

کمیسیون دفاع ملی کوریای شمالی بار دیگر از «اقدام برحق» گروه هکرها موسوم به «محافظان صلح» تمجید کرد، ولی درباره محل استقرار و فعالیت این گروه ابراز بی اطلاعی نمود. کوریای شمالی در این بیانیه همچنین هرگونه دست داشتن این کشور در حملات سایبری علیه کوریای جنوبی را رد کرد.

بارک اوباما رییس جمهور امریکا گفته است که این حمله انترنیتی کار کوریای شمالی بوده، تایید شده است. اوباما همچنان اضافه نموده است: (ما در مکان و زمان مناسب و به شیوه یی که خودمان مناسب بدانیم به این امر واکنش نشان خواهیم داد).

با وجود آنکه کوریای شمالی این اتهام را رد کرده و خواستار تشکیل کمیته مشترک تحقیق با امریکا در این رابطه شده، اما اوباما در مصاحبه یی که با شبکه سی‌ان‌ان داشت، بار دیگر ادعاهای قبلی را مطرح کرده و گفت واشنگتن بازگرداندن نام کوریای شمالی را به فهرست کشورهای حامی تروریزم مورد بررسی قرار می‌دهد.

بارک اوباما رییس جمهور امریکا به دنبال حمله سایبری کوریای شمالی به شرکت سونی پیکچرز موضوع قرار دادن دوباره نام این کشور را در فهرست کشورهای حامی تروریزم بررسی می کند.

به اساس گزارش اسوشیتید پرس دولت امریکا این تصمیم را برای پاسخ به حمله سایبری کوریای شمالی به شرکت امریکایی اتخاذ نموده است.

اوباما در مصاحبه با شبکه تلویزیونی سی ان ان خاطرنشان ساخت که دولت امریکا در حال بررسی این مسئله است.

نام کوریای شمالی دو دهه در فهرست کشورهای حامی تروریزم بود، اما دولت جورج دبلیو بوش در سال ۲۰۰۸ در مذاکرات هسته یی با کوریای شمالی نام این کشور را از این فهرست خارج کرد.

برخی از اعضای مجلس نماینده گان امریکا به دنبال حمله سایبری کوریای شمالی به این شرکت بررسی مجدد این مسئله را خواستار شده اند زیرا این شرکت مجبور شد نمایش فیلم ضد کوریای شمالی را که مبالغ هنگفتی برای آن مصرف کرده بود، لغو کند.

تنها ایران، سودان، سوریه و کیوبا در این فهرست باقی مانده اند. کشورهایی که در این فهرست قرار دارند با تحریم هایی در زمینه صادرات دفاعی و برخی قراردادهای مالی روبرو خواهند شد.

این در حالی است که بازگرداندن نام کوریای شمالی به این فهرست دشوار به نظر می رسد زیرا باید روی این مسئله دقت شود. کشوری که بارها از اقدامات در عرصه تروریزم بین المللی حمایت کرده است در صورتی که این اقدامات بیشتر اقدامات خشونت بار و حملات فزیکی را شامل می شود تا حملات سایبری و هک کردن.

اوباما در این مسئله ضمن همدردی با شرکت سونی پیکچرز به این شرکت وعده داد به حل این مسئله خواهد پرداخت.

پیامدهای حملات هکرها به شرکت فیلم سازی سونی پیکچرز که یک ماه پیش اتفاق افتاد در نهایت باعث شد که این شرکت در نحوه توزیع و نمایش فیلم "مصاحبه" که یک فیلم کمیدی و داستان آن طرح ترور رهبر کوریای شمالی است، تجدید نظر کند.

هکرها در جریان موج اولیه حملات سایبری خود تعدادی از ایمیل ها حاوی جزییات از مکاتبات و اطلاعات ستاره های بزرگ سینمای امریکا را به سرقت برده و افشا کردند. این حملات سایبری ادامه یافت و در هفته های اخیر هکرها، سینماهایی را که قرار بود این فیلم را نمایش دهند، تهدید کردند. که این ماجرا به یکی از دشوارترین و مختل کننده ترین فصل های تاریخ معاصر هالیوود بدل شده است.

ماجرا از کجا آغاز شد!

روز ۲۲ نومبر سالجاری میلادی مشخص شد که کمپیوترهای شرکت سونی پیکچرز مورد حمله قرار گرفته است. روی صفحه کمپیوتر کارکنان این شرکت علامت اسکلیت سیاه (نشان دزدان دریایی) پدیدار شد و هکرها در پیام خود تهدید کردند که "اطلاعات محرمانه یی" را که توانسته اند از این شبکه جمع آوری کنند، افشا خواهند کرد.

این حمله هکرها باعث شد که در سیستم کمپیوتری شرکت سونی پیکچرز اختلالات جدی به وجود بیاید و کارمندان مجبور شدند با کاغذ و قلم کار کنند. یک کارمند این شرکت به روزنامه (لاس آنجلس تایمز) گفت: ما حتا دستگاه فکس خود را هم خاموش کردیم.

یک گروه که ابتدا خود را GOP# و بعدا خود را (حافظان صلح) معرفی کردند، این حملات را انجام دادند. پولیس فدرال امریکا در این زمینه تحقیقاتی را شروع کرد که مشخص شد این گروه در افشای اطلاعات دست داشته است.

از آن زمان به بعد گمان زده می شود که احتمالا کوریای شمالی در این حملات سایبری دست داشته و این حملات با هدف انتقام گرفتن از نمایش فیلم "مصاحبه" توسط شرکت سونی پیکچرز انجام شده است.

یک سخنگوی وزارت خارجه کوریای شمالی این فیلم را یک اقدام تروریستی توصیف کرده و هشدار داده بود که در صورت نمایش این فیلم، اقدامات تلافی جویانه "بی رحمانه یی" صورت خواهد گرفت.

اما در نهایت دولت کوریای شمالی به طور رسمی دخالت در حملات سایبری را رد کرد ولی هکرها را ستوده و حملات آنها را "اقدامات شرافتمندانه" توصیف کرد.

پیامدهای این حمله سایبری تشدید شد و هکرهای گروه موسوم به "حافظان صلح" تهدید کردند که به سینماهایی که این فیلم را نمایش بدهند، حمله خواهند کرد.

نمایش اول فیلم در شهر نیویارک لغو شد و سینماهای زنجیره یی نیز نمایش آن را لغو کردند و در نهایت شرکت سونی پیکچرز اعلام کرد که تصمیم گرفته است نمایش سراسری فیلم را که برای روز ۲۵ دسمبر تعیین شده بود، اجرا نکند.

ظاهرا مجموعه زیادی از اطلاعات خصوصی شرکت سونی از جمله حقوق مدیران و شماره خدمات اجتماعی کارمندان این شرکت و همچنان تعداد زیادی از ایمیل های محرمانه کارمندان شرکت سونی هم افشا شده است.

پاکستان ۵۰۰ محکوم به ...

همزمان، وزیر داخله پاکستان گفته است که حداقل شش تن در ارتباط با حمله طالبان بر یک مکتب در پیشاور دستگیر شدند. در این حمله هفته گذشته طالبان بر این مکتب ده ها شاگرد کشته شدند. به گزارش خبرگزاری "دی. پی. ای"، شش نفر به شمول یک زن در یک شهر دوردست ایالت پنجاب پاکستان دستگیر شدند. در حمله هفته گذشته طالبان بر یک مکتب حدود ۱۵۰ تن که بیشترشان کودکان بودند، کشته شدند.

جودری نصار علی خان، وزیر داخله پاکستان به خبرنگاران گفت: "تعدادی از مظنونان که به نوعی تدارک دهندگان بودند، بازداشت شدند". خان همچنان افزود که بازجویان "به طور خوبی در کارشان پیش می روند". او از هویت مظنونان چیزی نگفت.

وزیر داخله پاکستان گفت که این کشور در جنگ علیه شورشیان به سر می برد. او از همه شهروندان پاکستان خواست تا دولت را در سرکوب شورشیان یاری کنند.

حمله طالبان بر یک مکتب در شهر پیشاور، دومین حمله مرگبار در تاریخ پاکستان به شمار می رود. در این حمله، کم از کم شش مهاجم طالبان به مکتب وارد شدند و شاگردان را به گلوله بستند. شورشیان طالبان بعدا گفتند که این حمله تلافی جویانه بوده و انتقام مرگ اعضای خانواده هایی را گرفته اند که در حمله اردوی پاکستان در وزیرستان شمالی کشته شدند. اردوی پاکستان گفته است که در حملات خود از میانه ماه جون تاکنون ۱۲۰۰ شورشی را کشته است.

در پاسخ به حمله اخیر طالبان، حکومت پاکستان مخفیگاه های این گروه را در مرز افغانستان بمباران کرد و منع مجازات اعدام را در قبال تروریست ها لغو نمود.

اوایل این هفته، شش مرد که به اتهام اقدامات تروریستی محکوم شده بودند، اعدام شدند. این افراد اعضای گروه های شورشی محلی مخالف دولت پاکستان بودند. طالبان پاکستانی گفته اند که آنان سوگند خورده اند انتقام مرگ این افراد را می گیرند.

د جرمني هېواد د ملي وحدت ...

دجرمني هېواد سفیر وویل: افغانان یو میلمه پالنه کې ډېر ښه تاریخ لري او دوی د افغانستان له خلکو او حکومت سره پردې تاریخي ملګرتیا او دوستي ویاړي.

د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال د جرمني هېواد له سفیر سره د ملاقات پرمهال د جرمني دولت او د خلکو د مرستو د قدرداني ترڅنګ وویل چې په تېرو کلونو کې یې له افغان حکومت سره د پام وړ مرستې کړې دي.

لومړي مرستیال د جرمني سفیر ته وویل: تروریزم افغاني پدیده نه؛ بلکې نړیواله او انسان دښمنه پدیده ده، چې پر یوه مذهب، جغرافیه او دین پورې منحصره نه ده.

انجنیر محمدخان د جرمني سفیر ته د متې ترڅنګ داډ ورکړ چې افغانان به هېڅکله د جرمني هېواد د خلکو مرستې هېرې نه کړي.

لومړي مرستیال په خپلو خبرو کې داهم وویل چې افغانستان له جرمني هېواد سره ډېرې تاریخي اړیکې او دوستي لري.

په پای کې د جرمني سفیر له ۲۰۱۴ کال ورسته د ملي وحدت له حکومت سره په روغتیایي، تخنیکي، پوځي، اقتصادي، ټولنیزو، ښوونې، روزنې او ټولنیزو چارو کې د روزنې او د سلا مشورو په برخه کې د خپلو مرستوژمنه وکړه.

تاکید وزیر دفاع ایتالیا بر حمایت...

کمک و همکاری ایتالیا به افغانستان در طی ۱۳ سال گذشته در عرصه های مختلف به خصوص بازسازی میدان هوایی بین المللی هرات، تشکر کرده و در رابطه به مبارزه با تروریزم گفت: حکومت جدید اراده قاطع برای مبارزه با تروریزم و افراطیت دارد.

در مقابل رابرته پیوتی وزیر دفاع ایتالیا ضمن تمجید از برنامه های حکومت وحدت ملی، از تعهد دراز مدت کشورش به افغانستان اطمینان داد و اظهار امیدواری کرد که تعهد مذکور بتواند روابط و مناسبات درازمدت میان دو کشور را هر چه بیشتر گسترش دهد.

خانم پیوتی مانند شماری دیگر از مقام‌های غربی در آستانه آغاز سال جدید میلادی به افغانستان سفر نموده و با نیروهای نظامی کشورش مستقر در این کشور دیدار نمود. وزیر دفاع ایتالیا در سفری به افغانستان گفته که کشورش در بخش نظامی با نیروهای امنیتی افغانستان همکاری نموده و در قسمت توسعه اقتصادی و مبارزه با تروریزم این کشور را حمایت دراز مدت می‌نماید.

خانم پیوتی همچنان با داکتر عبدالله عبدالله، رییس اجراییه حکومت وحدت ملی افغانستان نیز دیدار و گفتگو کرد.

قابل تذکر است که ایتالیا در بیشتر از یک دهه گذشته در چارچوب نیروهای ناتو و نیروهای بین المللی کمک به امنیت در افغانستان (آیساف) دراین کشور حضور داشته‌ودر عرصه بازسازی افغانستان نیز کمک کرده است.

تا حدود یک هفته دیگر و با آغاز سال آینده میلادی، ماموریت جنگی نیروهای بین‌المللی در افغانستان به پایان می‌رسد و مسئولیت‌های دفاعی و امنیتی به صورت کامل به عهده نیروهای امنیتی افغانستان گذاشته می‌شود.

نیروهای ایتالیایی در یک دهه گذشته ۴۸ نفر تلفات داشته اند.

هکرانو د افغانستان پر دولتي ...

د ThreatConnect په نامه امریکایي شرکت، چې مرکز یې په امریکا کې دی، د مجازي امنیت په برخه کې څېړنې کوي، چې وايي تېره اونۍ هکرانو د افغانستان د دولت انټرنېټي ټوکښتونه چې تر ډېره د gov.af په بڼه کار تري اخیستل کېږي، د ککړو پوست کالیو (سافټویرونو) په مټ چې ګومان يې کېږي، ددوی سرچینه به وي، په نښه کړي دي. ددغه شرکت په وینا، د افغانستان د عدلیې وزارت، بهرنیو چارو وزارت، پوهنې وزارت، سوداګرۍ او صنایعو وزارت، مالیې او د بهرنیو چارو وزارتونو او همدارنګه په استرالیا کې د افغانستان د سفارت وېبپاڼې د چینایي هکرانو له خوا د یاد سافټویر په مټ په نښه شوي دي.

خو د افغانستان د مخابراتو وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ یوه مخکښي مامور محمد زبیر ورسجي ویلي، نږدې درې کاله مخکې یې د افغانستان د مجازي فضايي سیستم په امنیت کې د څېنو نیمګړتیاوو په اړه د مخابراتو وزارت ته خبر ورکړی و، چې نن هکرانو له دغو نیمګړتیاوو په ګټې اخیستو سره دولتي سیستمونه کنټرول کړي دي.

ښاغلي ورسجي دا هم ویلي، چې په دا ډول بریدونو کې هکران جلیځو سیستمونو ته ننوتې (فایلونه) ورلیږي، چې په مټ یې بیا د کاروونکو شخصي معلومات ترلاسه کولی شي.

هغه وايي، د افغانستان د مجازي فضاء ټول وروڼه پرانیستي دي او "دولتي پستونه، لکه د وزیرانو کمپیوټرونه، ددوی پرېښتنالیکونه او د اړګ سولګرونه (کمپیوټرونه) هم د دغه ډول بریدونو ښکار کېدای شي.

نوموړی وايي، دولت باید یو خارنیز سیستم جوړ کړي، خپل امنیتي کمربندونه پیاوړي کړي او د خپلې مجازي فضاء د خوندیتوب لپاره اوږدمهالې تګلارې ولري، که نه نو "یوازې د ویروس ضد پوست کالي" به هېڅ توره ونه کړای شي.

زبیر ورسجي وايي، مخکې یې مجازي فضاء کې د نیمګړتیا په اړه مخابراتو وزارت ته خبر ورکړی و. پر همدې مهال، د مخابراتو وزارت وايي، د افغانستان د مجازي فضاء د خوندي ساتلو لپاره سلګونه زره ډالر لګول شوي چې دغه هېواد د اړتیا په وخت کې د انټرنېټي بریدونو د مخنیوي لپاره تر خپله وسه له ټکنالوژۍ ګټه اخلي، خو هر ډول برید شنلولی شي.